سلطان جان کلیوال ٢٠١٩/٠٢/١٩

# د یوی بلی پروژی د پاره هلی ځلی؟

پاکستان د انگریز د دولت له لوری د هندوستان نه د وتلو د تصمیم نه وروسته، اساساً د دی هدف د پاره جوړ شو چی د اوږدی مودی د پاره، د همدی یوه غیر طبعی او مصنوعی هیواد د شتون په صورت کی په سیمه کی خپلی گټی په پوره توگه له لاسه ورنه کاندی. کله چی داهیواد د مذهبی بنسټ له مخی د انگریزی مسلمان محمد علی جناح په مشری جوړ شو نو د یوه دولت په توگه دی ته اړتیا را پیدا شوه چی د دی دولت د حاکمیت لاندی راغلی مسلمانان په شرقی پاکستان (اوسنی بنگله دیش) کی او په غربی پاکستان کی، په دی دولت باندی را ټول کړلی شی او د دولت په وړاندی د عوامو د پاڅونو مخنوی وکړلی شی نو باید ځنی داسی پروژی طرح شی چی د دی غیر طبعی دولت د ژر بیرته ړنگیدو مخه پری ونیول شی. د دی کار د پاره تر ټولو گټوره پروژه هغه وخت د اسلام په نوم د پاکستان په دواړو برخو (شرقی او غربی) کی دا تر ټولو مؤثره پروژه چی په بنگال، کشمیر او پښتونستان کی د خلکو او سیمو ویش د هندوستان او پاکستان ترمنځ او د افغانستان او پاکستان تر منځ یو داسی پلان و چی د سیمی خلک یی د عقل او تولنیز منطق په ځای په مذهبی احساساتو کی داسی غرق کړل چی خپل ټول مدنی او انسانی حقوق یی ورنه هیر کړه او یو د بل په وړاندی د گرمی جگړی میدان ته را و بلل.

په دی کشمکش چی دری لوی جنگونه د دی هیواد او هندوستان تر منځ د لسگونو وړو جنگونوسره پیښ شول او بلاخره په کال (١٩٧١م) کی بنگله دیش د پاکستان نه د سختی او درنی جگړی نه وروسته آزاد او پاکستانی جنرال امیر عبدالله خان نیازی د هندی جنرال جگجیت سنگهه آرورا په وړاندی د تسلیمی گونده و وهله او شرقی پاکستان د بنگله دیش په نوم جوړ شو.( د پاکستان ددولت د پوځ مشر جنرال یحیی خان هغه وخت د سینټو له نظامی پکټ څخه چی پاکستان یی هم غړی و د هندوستان په وړاندی د مرستی غوښتنه وکړه، خو دی نظامی تړون د پاکستان غوښتنه له دی کبله و نه منله چی دا نظامی تړون د شوروی په وړاندی جوړ شوی و، نه د هندوستان او یا بل هیواد په وړاندی) په کشمیر یانو، پښتنو او بلوڅو په منځ کی یی هم د څه داسی اشخاص د تطمیع په بڼه په خپله خوا کی ونیول چی دری واړو قومونو ملی مشران او ملی غورځنگونه یی تر ننه پوری زپلی او ټکولی دی او د هغوی په سیمو یی خپل تسلط ساتلی دی. دا پروژی اوس هم دوام لری خو د پاکستان هیواد چی په منطقه کی د انگریز اوله هغه وخته چی د شوروی اتحاد د احتمالی پر مختگ د مخنیوی په منظور د ساړه جنگ په وختی کی د سینټو په نظامی پکټ (١٩٥٥-١٩٧٩) کی ورداخل کړلی شو د امریکا د گټو دساتنی د پاره استخدام شو، د غربی هیوادونو خصوصاً د امریکا د متحده ایالاتوله هیواد څخه د څه نورو داسی پروژو د لاس ته راوړلو په لټه کی شو چی هم پری د هندوستان په مقابل کی نظامی قوت پیاوړی کړی او هم په اقتصادی لحاظ و کولی شی چی د هغو بیلیونونو ډالرو پور پری ادا کړلی شی چی د انکشاف په نوم یی د نړی نه تر د لاسه کړیدی او په نظامی چارو یی لگولی دی.

کله چې په ۱۹۷۳ کال کی د سردار محمد داود خان په مشرۍ د افغانستان شاهی نظام د یوی نظامی کودتا په نتیجه کی په جمهوری نظام تبدیل شو، نو د نظام د تغیر سره سم په افغانستان کی د افراطی اسلامی ډلو مشرانو د هغو وړو منصبدارانو په شتون سره چې په کودتا کی یی برخه اخستی وه او په لوړو چوکیو و گمارل شول داسی نتیجه واخسته چې دا کودتا د شوروی اتحاد په مرسته را منځ ته شوی او سردار محمد داود خان یی هم شوروی پلوی جمهور رئیس و گاڼه نو ځنی مشران یی لکه برهان الدین ربانی ، گلبدین حکمتیار، احمدشاه مسعود او نور د ډیورنډ د کرښی نه آخوا د پیښور ښار ته و تښتیدل. د پاکستان زمامدارانو چې ولیدل چې دا راتښتیدلی کسان، د افغان نوی جمهوریت د جنوب په لور د شوروی اتحاد د را خوزیدلو پیلامه گڼی نو دوی یی په عادی توگه په لاس کی ونیول او د خپلی استخباراتی شبکی (آی،اس،آی) په لاس یی ورکړل. دی شبکی په دوی باندی کار پیل کړ او دوی ورو ورو دی ته و هڅول چې په افغانستان کی نارامۍ ته لمن و وهی. د دی کار سره سم یی د متحده ایالاتو او انگریز حکومتونو سره د جنوب لوری ته د شوروی اتحاد د را مخ ته کیدو د خطر په هکله اړیکی ونیوی او په تدریج سره یی په پرله پسی توگه په افغانستان کی خپل تخریبی کار ته دوام ورکړ.
د وخت په تیریدو سره د سردار محمد داود خان او د کودتا چې ملگرو په منځ کی هم بی اعتمادۍ رامنځ ته شوی، د شوروی اتحاد سره هم د جمهوری دولت اړیکو کی سستوالی راغی او بلاخره په ۱۹۷۸ کال کی د افغانستان د خلکو د دیموکراتیک گوند په مشری د سردار محمد داود خان جمهوری نظام نسکور شو او قدرت په مکمله توگه شوروی پله ډلی ته ور انتقال شو. د دی تغیر سره سم د عوامو خبره د پاکستان غوا لنگه شوه او امریکا او نورو هیوادونو نه یی د راتلونکی احتمالی خطر د مخنیوی په منظور د هر ډول مرستو غوښتنی له سره نوی کړی. یو یو نیم کال وروسته د شوروی دولت په افغانستان یرغل وکړ او ټولی دنیا ته دا د خطر زنگ په غوږ کی و کړنگیده چې افغانستان شوروی قبضه کړ او په نن او سبا کی به پاکستان هم تر ولکی لاندی راولی.
د شوروی د دی بی عقلانه کار په نتیجه کی د افغانستان نه په میلیونونو افغانانو پاکستان،ایران او نوروهیوادو ته مهاجر شول. پاکستان د نورو هیوادو په نسبت له دی حالت نه ښه گټه او چته کړه او د ټولی غربی نړۍ، ملل متحد او خصوصاً د متحده ایالاتو د دولت پام یی ځانته را واړاوه او د د افغان مهاجرو سره د مرستی پروژه یی طرحه او په دی توگه یی د نړۍ د لویو پانگه والو، هیوادو، موسسو او ځانگړو اشخاصو نه په ملیاردونو ډالر تر د لاسه کړل، سپکی او درنی وسلی یی لاس ته راوړی او بلاخره په دی هم و توانیده چې اتومی قدرت جوړ شی.
د جهاد پروژه په بری سره سرته ورسیده، نه یواځی په افغانستان کی کمونست پلوه رژیم له منځه و لاړ بلکی داسی ستره نتیجه یی تر د لاسه کړه چې د شوروی اتحاد دولت او ټول کمونیستی بلاک هم له منځه و لاړ. امریکا د نړۍ یواځنی زبرځواک شو. په دی ځوارلس کلنه جگړه کی نژدی دری ملیونه افغانان و وژل شو، ټول هیواد په کنډواله بدل شو او تر ټولو لوی مصیبت دا چې ټول جهادی رهبران او مشهور جنگی قوماندانان په مستقیمه او غیر مستقیمه توگه د پاکستان د استخباراتی شبکی (آی،اس،آی) په لومو کی راگیر شول او تر ننه پوری لا ورسره بند پاتی دی. د افغانستان اردو یو نیم سل کلنه اردو یی ماته کړه او د هیواد ټوله منقوله شتمنی پاکستان ته د کباړه په بڼه یوړله شوه.
کله چې د مجاهیدینو پروژه ختمه شوه، پاکستان بیا په دی فکر کی شو چې که په افغانستان کی یو مستحکم دولت جوړ شی نو دوی به د دوه قوی دولتونو ( افغانستان او هندوستان) تر منځ خپل موجودیت ځکه له لاسه ورکوی چې دا یو طبیعی دولت نه دی او د مشخصو هدفونو د پاره چې اوس هغه اهداف ترسره شویدی جوړ شوی هیواد دی، نو د یوی



Commenté [SK١]:

بلی داسی پروژی په طرحه یی پیل وکړ چی د افغانستان په دننه کی د جنگ جګړی اور بل پاتی شی. د ډیرو څیرنو او پلټنو نه وروسته یی د ځینوعربی شیخانو په مرسته طالبانو، پروژه د لاس لاندی ونیوه او په لنډ وخت کی یی و کولای شول چی په خپل لاس جوړ شوی جهادی تنظیمونه له واکه لری کړی او د تاریکو پیړیو په څیر طالبانی قدرت د افغانستان د خلکو په سر را نازل کاندی. دا کاریی هم په بری سره تر سره کړ. خو د دی دپاره چی طالبان هم سبا ورځ دوی ته درد سر جوړ نشی د امریکا په مشوره یی د جهادی تنظیمونو پخوانی دوست د القاعدی مشر اسامه بن لادن د سودان نه را و غوښت او د طالبانو په قدرت کی یی ور دننه کړ. د سپتمبر د یولسمی خونړی پیښه یی په بن لادن ور واړوله او امریکایی و هڅوله چی د طالبانو نه د هغه تسلیمی و غواړی، خو طالبان یی و هڅول چی د یوه افغان ـ مسلمان دولت په څیر خپل مجاهد مسلمان میلمه باید یوه کفری دولت (امریکا) ته ورنکړی. هماغسی وشول، امریکا په قهر شوه او طالبان یی له قدرته لری کړل. بل یو نا اهله حکومت یی د ماتی خوړلواو بی اعتباره جهادی تنظیمونو نه د حامد خان کرزی په مشری را جوړ کړ او امریکا ته یی نه یواځی خپل زمینی او هوایی حریم د طالبانو د ماتولو د پاره په اجاره ور کړ، بلکی په خپل هیواد کی د طلبانو سفیر او نور دیپلوماتان یی هم د ټولو دیپلوماتیکو نورمونو خلاف امریکا ته ور تسلیم کړل او په دی توګه یی په بیلیونو ډالر د امریکا نه تر د لاسه کړل. مات شوی طالبان یی بیا د بلی لوبی د پیل د پاره په خپل هیواد کی سره را ټول کړل او د ځینو عربی هیوادونو په مرسته یی د امریکا په مشوره ورو ورو بیا وسله وال کړل او منظمی جګړی ته یی را و بلل تر څو افغان دولت کله هم د دی وړتیا تر د لاسه نکړی چی یو باثباته افغانستان و لری.

په دی وروستیـو کی داسی ښکاری چـی امریکا په دی پوهیـدلی وی چی پاکستان د دوی سـره دوه مـخـی سیاست کوی (ممکن په دی پوهاوی کی د افغان جمهوررئس محمد اشرف غنی برخه هم وی) نو پاکستان ته یی ګواښ و کړ چی د تروریستانو له ملاتړ نه لاس واخلی کنه نو ټولی هغه مرستی به چی پاکستان ورباندی ژوندی دی، پری ودرول شی. پاکستان بیا هم خپل دوه مخی سیاست ته دوام ورکړ او د امریکا د پاره یی د نوی تشویش د پیدا کونی په خاطر د روس د دولت او خپل پخوانی ملګری د چید دولت سره دنوو اړیکو په لټه کی شو. په دی برخه کی یی دومره پر مختګ وکړی چی افغان طالبان یی د افغان جهادی ډلو په شمول ټول د مسکو په ښار کی سره را یوځای کړل او امریکا ته یی دا وښوله چی دا نور هغه پاکستان نه دی چی بی ستا له اجازی به د سا اخستلو توان و نه لری. د انګریز زوړ ملګری د کریکټ پخوانی قوی لوبغاړی عمران خان د پوځ په ـ وښتنه د هیواد صدراعظمی ته ورسیده او د واکمنی سره سم یی د سوال کچکول غاړی ته واچاوه چی د امریکا د مرستو د قطعه کیدو په صورت کی له بلی لوری د ځان چاره وکړی. په دی طرز کی د سعودی وهابی مطلق العنان قدرت چی په ترکیه کی د ژورنالست جمال خاشوجی د مړینی له کبله د امریکاله دریځ نه خپه شوی وو، پاکستان سره د مرستی کولو مشروط سر و خوځاوه. تیره ورځ د سعودی ولیعهد شهزاده محمد بی سلمان د خپل کاروان سره پاکستان ته ورسیده او د پاکستان د صدرعظم په ډریوری له هوای ډګر نه تر د خپلی استراحتګاه پوری یوړل شو. شهزاده په خپلو خبرو کی و ویل چی« پاکستان به په راتلونکی کی په اسلامی نړۍ کی یو ډیر مهم هیواد جوړ شی» د دی سره سم یی اعلان وکړ چی د سعودی عربستان دولت به په پاکستان کی د شلو ملیاردوډالرو په اندازه سرمایه ګزاری (دپاکستان سره مرسته ) و کړی. اوس اساسی پوښتنه داده چی سعودی ولی د پاکستان سره دومره ستره مرسته کوی؟

ځواب روښانه دی پاکستان لا څو ورځې د مخه  په ایران کی چی د سعودی دولت ستر حریف دی تروریستی حمله تر سره کړه او سعودی دولت ته یی دا و ښوله چی که د دوی لاس نیوی وکړی ایران به د افغانستان په څیر  دادسی تروریستی حملو لاندی راولی چی بیا کله هم په منځنی ختیځ کی د سعودی په وړاندی د سر جګولو جرئت و نه کاندی. اوس چی داسی ښکاری چی د طالبانو پروژه هم مخ په ختمیدو ده او نور پاکستان د دنیا نه د طالب تروریستی ډلی سره د مبارزی په نوم څه نه شی تر دلاسه کولی نو د سعودی په مرسته به په خپل هیواد کی د داعش ډلی ته د نوی پروژی په توګه روزنه او پناه ور کوی، په افغانستان ، ایران او هندوستان کی به پری تروریستی عملیات کوی او د سعودی عرب او غربی نړی نه به د دی ډلی سره د مبارزی په نوم بیا ملیاردونه ډالر تر د لاسه کوی. دا پروژه به لا پای ته وی رسیدلی چی په بله پروژه به کار کوی او بیا به د نړی له ړانده زعامت نه د مرستی په نوم پیسی تر د لاس کوی. (تاکه احمق در جهان است مفلس در نمی ماند.) پای.



یادونه:

که چیری گران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر  او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو  هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!

د یوی بلی پروژی د پاره هلی ځلی؟
kliwal_s_deyawa_boley_proje_depaara_halezale.pdf